آصف بهاند ۲۰۲۶/۰۸/۰۷

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

## ۴۳مه برخه

## لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۹۱مه‌برخه

دا دې یوځل بیا ګران دوست صدیق ننګ د خپلو دایمي همکاریو په لړ کې د نویو لنډیو د راخوندي کولو له پاره یوه داسې نوې ویډیو رالېږلې ده چې ډېرى لنډۍ يې زما له پاره نوې او د خوندي کولو وړ دي. د ویډیو پر سکرین باندې یوه لنډۍ او دا معلومات لیکلی دی:

«په‌خپل زنګون به دې حلال کړم
د بل یـــارۍ تـــه بـــه دې پرېنـږدي مئینه

ډېرو ملګرو ویل ټپې دې نه ښکاري دا يې زما او د مقصودیار صاحب د ټپو تازه ویډیو، مشر یو دوه ځایه پکې ژړغونی شو، ټپې زور لري خامخا دې زړه او سترګې راډکوي.
سربلند مقصودیار»

دا لاندې د یادې ویډیو لینک دی، خو له بده‌شامته چې ویډیو اوس نه پلې کېږي:

https://www.facebook.com/reel/1009364265320018

ښاغلي صدیق ننګ په همدې ورځ (۲۰۲۶/۰۷/۳۰) یوه بله ویډیو هم راسره شریکه کړه چې په هغې ویډیو کې یوتن له یوه سروکي سره له موزیک پرته سوې لنډۍ اچوي او بل تن تائیدي غږونه ورسره کوي، خو د کورس‌ویلو په وخت کې غږونه د ډېرو خلکو راځي. ویډیو پنځه‌دقیقې او څلورثانیې ده. ما په خوند سره واورېده سروکی او لاندې لنډۍ مې ورنه راخوندي کړې:

https://www.facebook.com/watch/?v=1141722674493917

وَ نارې دي
لونګینه وَنارې
وَ نارې دي
لونګینه وَنارې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زما څلور ورونه ښادرى دى
كه زه سرتوره پەكې ځم، په تا به يمه
وَ نارې دي
لونګينه وَنارې

مخ دې د يو ميليون روپو دى
كماصل خوى دې د پيسي نەدى مێنه
وَ نارې دي
لونګينه وَنارې

د جوارګرو ورونو خور يم
بابا مې نەشته، څوک مې نەکوي پوښتنه
وَ نارې دي
لونګينه وَنارې

په تلو دې داسې شوم بېوسه
لکه يتيم چې ګاونډي ته پاتېشينه
وَ نارې دي
لونګينه وَنارې

كه ديدن کې تلوار راوکه
وروستو تبى راباندې ږدي، پناه يې کړمه
وَ نارې دي
لونګينه وَنارې

زما تر خاورو لاندې ياره
ګېڼى ـ ګېڼى زلفې دې سته، كه خاورې دينه
وَ نارې دي
لونګينه وَنارې

پرتا مې زيرى د مرگ وشه
چې توررانجه دې پرمخ جوړ کړي کتارونه
وَ نارې دي
لونګينه وَنارې

https://www.facebook.com/watch/?v=1141722674493917

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ